DATE: ________ DAY: ________

سوال: په نسلي توګه پښتانه سوک دي؟ په دې اړه بحث اوکړئ۔

## تعروف:

د پښتنو باره کښې چې سومره نظريات دي دومره بل يو شي د يو قوم باره کښې هم نه وي، د همدې وجه دا چې پښتانه په تاريخ کښې انتهر پاتې شوي، تو قبل تاريخ دې قبيله ټاکلې شکلي۔ پښتانه دا دعوه کيږي چې موږ 5000 کاله زاړه يو۔ تو کاموښو اوګورو نو د پښتو اوموبۍ شعر امير کروړ په 139ھ کښې ليکلې وو، هم دغه رنګ د نثر لومړۍ کتاب محمد هاشم سرواني په 223ھ کښې ليکلې وو د کوم نوم چې "د سالو وږمه" دی۔ دې نه معلوميږي چې پښتانه دومره زاړه نه دي لکه سومره دوی دعوه کيږي۔ د دې نه علاوه د پښتو باره کښې ګڼ نظريات موجود دي نو مونږ کښې تر ټولو نه مقبوله نظريه دا ده چې پښتانه بني اسرائيل دي۔

## د پښتو د نسل په باره کښې ګڼ نظريات:

پښتنو باره کښې چې کوم نظريات مشهور دي هغه دا دي چې پښتانه د بني قتوره اولاد دي کوم چې د حضرت ابراهيم عليه السلام ميرمن وه۔ بله دا چې دوی ساکي دي، دوی اساکي دي، آريا دي، پښتانه يوناني نسل دي، او

بلکه دا چې دوی د وسطي اشیا دي.

## پښتنو باره کښې مقبوله نظریه:

په دې ټولو نظریاتو کښې چې کومې نظریې ته د ټولو نه زیات مقبولیت حاصل دی هغه سامي نظریه ده. یعنې پښتانه بني اسرائیل دي. د نظریې په لړ کښې "ملا نعمت الله هروي" په خپل کتاب "تاریخ خان جهاني مخزن افغاني" کښې د اورنګزیب د انګلیس په وینت کښې لیکلي وا. همدغه رنګ نور مشران او پوهان هم دا نظریه لري چې پښتانه بني اسرائیل دي. خوشحال بابا هم د پښتنو باره کښې وائي:

په نیا ګښت یا ازې یې خچه دا وینا دا
چې په اصل دا یعقوب قوم و تبار دي

دا شعر د پښتنو د باره دیو صحیح حیثیت لري، ځکه چې خوشحال خان د پښتو ادب پلار منلی کېږي او د هغه نظریات پښتو د باره ډېر اهمیت لري. هم دغه رنګ نورو لیکوالو هم خپلو کتابونو کښې دا منلي دي چې پښتانه بني اسرائیل دي. د مثال په توګه زرداد خان په "صولت افغانه" کښې سید عبدالجبار په "بني اسرائیل یا ملت افغاني" کښې او افضل خان ختک په "تاریخ مرصع" کښې د دې دي چې پښتانه بني اسرائیل

دي.

## سامي نظريه او د پښتو تاريخ:

د پښتو په اړه کښې چې کومه واقعه نعمت الله
هروي بيان کړې د هغې نه تاريخ لوړه ليکوالو
هم په ليکه د بل برلون سره وړاندې کړې دي.
دا حضرت نوح د زمانه وو او نومونه يې وو
سام، حام، او يافث. بني اسرائيل د سام اولاد دي
ځکه دې نظريې ته سامي نظريه وائي. په بني
اسرائيلو کښې يو بادشاه وو نوم يې طالوت ووه.
د ته د پښتو پلار هم وبلې کيږي. طالوت چې کله
يو جنګ ته سره د ټولو بچو تللو نو يو ملازم يې وو
داؤد کوم چې بيا روستو د حضرت داؤد په نوم اپيژندل
شو. داؤد ته طالوت د وصيت اوکړو چې زما
بيبياني په امید سره دي. که چرې زه جنګ کښې
سره د بچو مړ شوم نو زما په نارينه بچو پالنې په
ارميه او برخيه نومونه کيږي. طالوت جنګ کښې
سره د بچو مړ شو او داؤدؑ يې په نارينه بچو هم صفه
نومونه کيښودل. وخت چې تېر شو نو د ارميه
زوی اوشو او نوم يې وو افغنه. ډېر وخت
چې تېر شو نو په بني اسرائيل باندې يو فارس
بادشاه مسلط شو. دوی د وجې افغنه سره د بچو
هجرت اوکړو او موجوده افغانستان چې کوم دی
دې ځې ته راغلل. او دلته چې د صغوی قوم
پورې شو نو صغې ته او بل شو افغان قوم.

ډېر وخت پس چې کله عرب کښي اسلام
راولو صحابه وینئ د پښتنو مشر قیس وو
هروي په شان کتاب کښي وائي چې حضرت خالد
بن ولید هم د بني اسرائیل د قوم وو، صحابه ته
دې کله پته اولګېده چې د صحابه رشته دار
دي په افغانستان کښي نو صحابه قیس ته د
اسلام دعوت ورکړو، قیس مدینه کښي
اسلام قبول کړو او رسول ﷺ یې نوم کښېښودو
عبدالرشید، د قیس عبدالرشید درې زامن
وو، خرښبون، سړبن او بیټن، نو دې
پښتانه سومره هم شان شجره نسب مخکښي پوزي
نو د هم دې درې سره ملاوېږي، لنډ مو دا
د تاریخي شواهدو نه او د مشرانو د کتابونو نه
د نتیجه را باسو چې پښتانه بني اسرائیل دي.

## نتیجه:

د پښتنو د نسل په باره کښي نو ډېر نظریات
دي چې روي سوک دي، سوک وائي اریا دي
سوک وائي اساک دي، نو د ټولو نه مقبوله
نظریه دا دې چې پښتانه بني اسرائیل دي او د تاریخي
شواهدو نه هم دا معلومېږي، حمزه بابا هم په شعر
کښي فرمائي

ما حمزه ته پیش چې باده ذاونده
په هغې نلي پیمانه کښي د افغان را